

# طب پوهنځي کتلاک

۱۴۰۲ ل. کال



# اړیکي

**فیسبوک او انسټاګرام**
Malalay.mihe

**ټویټر Twitter**
Malalayedu

**ویب پاڼه Website**
malalay.edu.af

**لنکډ ان LinkedIn**
Malalay Institute of Higher Education

**بریښنالیک E-Mail**
info@malalay.edu.af

**یوټیوب Youtube**
Malalay University

**وټس اپ Whatsapp**
0703300634

پته : دوهمه عینو مېنه، ختیځ لور، ۲۸ سړک. کندهار، افغانستان.

## پېژندنه او د ماموريت اعلاميه

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځی په کندهار کې د مسلکي روغتيايي کادرونو د روزنې په موخه د مؤسسې له تأسيس سره سم په کال ۱۳۹۱ کې د ثور مياشتې په څلورمه نېټه تأسيس سوه. طب پوهنځی د کندهار ولايت له عصري او معياري روغتونونو سره قراردادونه لري او محصلان د عملي زده کړو له پاره يادو روغتونونو ته معرفي کوي، په همدې ترتيب د محصلانو او استادانو د علمي څېړنو له پاره ئې مالي منابع ځانګړې کړې دي، تر څو په علمي څېړنو کې ګډه ترې واخيستل سي. طب پوهنځی د بېلابېلو چارو له پاره پنځه کلن ستراتېژيک پلان او تر لسو ډېرې کمېټې لري چې د خپل مهالوېش مطابق فعاليتونه کوي. ياد پوهنځی دوې (پارا کلينيک او کلينيک) څانګې لري او د سهار او ماپښين په وختونو کې يې درسي چارې پر مخ وړل کېږي. د طب پوهنځي رياست، معاونيت، کلينيک څانګې آمريت، پاراکلينيک څانګې آمريت، تدريسي مديريت، اجرائيه مديريت د ياد پوهنځي اداري جوړښت دئ.

### لېر ليد Vision:

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځی به د هېواد د بيا رغولو، هر اړخيز ټولنيز او اقتصادي پرمختګ په موخه د طب په برخه کې د معياري تدريس، څېړنې او طبي خدماتو وړاندې کوونکی وي.

### رسالت Mission:

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځی به په روغتيايي برخه کې د مسلکي او ژمنو کادرونو د روزلو په موخه د ښه اکاډميک او څېړنيز چاپېريال رامنځ ته کولو له پاره هلې ځلې کوي.

### بنسټيز ارزښتونه Core Values:

- د منځنيو زده کړو څخه فارغ او ممتاز زده کوونکي د کانکور له لارې جذبول
- د مهالوېش مطابق د ټاکل سوي درسي نصاب مطابق درسي چارې مخ ته وړل
- محصلان په طبي مهارتونو سمبالول
- د لوړو زده کړو د قوانينو په رڼا کې په طبي برخه کې تر لېسانس کچې علمي کادرونه روزل
- د هيواد بچيانو علمي کچه لوړول
- د هېواد په بيا رغولو او پرمختيا کې د ونډې اخيستلو په موخه کارپوه کادرونه روزل

### ستراتېژيکي موخې Strategic Goals

- بنسټيز تأسيسات ودانول
- مالي او اداري چارې تنظيمول
- کيفيت لوړول او اعتبار ترلاسه کول
- د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخيستل
- د پوهنځي ظرفيت لوړول
- علمي او څېړنيز فعاليتونه ډېرول



# د معالجوي طب علمي پروګرام تدریس او ارزوني

**معالجوي طب پوهنځۍ ټوله دوره «۲۶۰» کرېډېټونه لري چې تدریسي وېش يې په لاندي ډول دئ:**

| ټوله دوره | ستاژ دوره | هر کال | هر سمستر | تدریس | نظري | عملي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شپږ کاله | یو کال | دوه سمسترونه | ۱٦ اونۍ | عملي+نظري | ۵۰ دقیقې | ۱۰۰ دقیقې |

**پاراکلینیک څانګه** لومړني شپږ سمسترونه په پارا کلینیک څانګه کي لوستل کېږي چې پکښې اساسي، مسلکي او تقویتي مضامین تدریسېږي.
**کلینیک څانګه** له اووم سمستر څخه پیلېږي او تر څوارلسم سمستر پوري دوام مومي چې په جریان کي يې تخصصي مضمونونه تدریسېږي او لویه برخه يې عملي کار ته ځانګړې سوي ده.

| تدریسي مېتودونه | | | |
|---|---|---|---|
| ۱- نوي درسونه ارائه کول | ۲- د استاد او محصل تر منځ سوال او ځواب | ۳-بحثونه، خبري اترې او مناقشې | |
| ۴- په لابراتوارونو او روغتونونو کي عملي کارونه سر ته رسول | ۵- څېړني کول | ٦- ګروپي کارونه کول | ۷- د محصلانو سمینارونه |

| ارزوني | | |
|---|---|---|
| ۱- منځنۍ ازموینه: ۲۰ نمرې | ۲- نهايي ازموینه: ٦۰ نمرې | ۳- کورنۍ دنده او عملي کار: ۲۰ نمرې |

د طب پوهنځي محصلان مکلف دي چې ۲۵ سلنه حاضري پوره کړي، د نه پوره کولو په صورت کي په نهایي ازموینو کي د ګډون حق نه لري او محروم شمېرل کېږي.

## پروګرام ته د شاملېدو شرایط:

- دوې د تذکرې او دوې د شهادتنامې/درې کلنو نمرو رنګه کاپیاني
- په سپینه پرده کي لس قطعې ۳/۴ انځورونه
- د ثبت نام ۵۰۰ ؋ فیس

## درسي وختونه:

۱ نجوني - سهار دوره

۲ هلکان - ماپښین دوره



## اداري تشکیل Organizational Structure

- د پوهنځي ریاست
- د پوهنځي معاونیت
- د پارا کلینیک څانګي آمریت
- د کلینیک څانګي آمریت
- د کیفیت تضمین او لوړاوي آمریت
- تدریسي مدیریت
- اجرائیه مدیریت
- د درملتون مسؤل
- د اناټومي لابراتوار
- د مایکروبیولوژي لابراتوار
- د فزیک لابراتوار
- د بیوشیمي لابراتوار
- د سکېل لب مسؤل
- د عاجل اطاق مسؤل

## شورا ګاني او کمېټې Councils & Committees

١. علمي شورا
٢. څېړني کمېټه
٣. محصلانو کمېټه
٤. فارغانو کمېټه
٥. د کیفیت تضمین او لوړاوي کمېټه
٦. نظم او ډسپلین کمېټه
٧. ستراتېژیک پلان کمېټه
٨. نصاب او کرېکولم کمېټه
٩. ازموینو کمېټه
١٠. برېښنایي زده کړو کمېټه
١١. نشراتو او فرهنګي چارو کمېټه



## پي سي بي- لومړی سمستر PCB: First Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډيټونه |
|---|---|---|---|
| بيولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| کيميا | ۲ | ۲ | ۴ |
| فزيک | ۲ | ۲ | ۴ |
| ټرمينالوژي | | ۴ | ۴ |
| اعتقادي نظام | ۲ | | ۱ |
| کمپيوټر | | ۱ | ۱ |
| تجويد | ۱ | | ۱ |
| **ټول کرېډيټونه:** | ۸ | ۱۲ | ۲۰ |

## پي سي بي- دوهم سمستر PCB: Second Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډيټونه |
|---|---|---|---|
| فزيک | ۲ | ۲ | ۴ |
| کيميا | ۲ | ۲ | ۴ |
| بيولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| عباداتي نظام | ۲ | | ۲ |
| جنتيک | ۱ | ۱ | ۲ |
| ترمينالوژي | | ۲ | ۲ |
| کمپيوټر | | ۱ | ۱ |
| سيرت النبي ص | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډيټونه:** | ۱۱ | ۱۰ | ۲۱ |

## لومړی ټولګی- درېيم سمستر 1th Class: Third Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډيټونه |
|---|---|---|---|
| اناټومي | ۳ | ۲ | ۵ |
| هستولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| امبريولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| بايوفزيک | ۱ | ۱ | ۲ |
| ترمينالوژي | | ۴ | ۴ |
| ټولنيز نظام | ۲ | | ۲ |
| اخلاقي نظام | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډيټونه:** | ۱۱ | ۱۰ | ۲۱ |

## لومړی ټولګی- څلورم سمستر 1th Class: Forth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډيټونه |
|---|---|---|---|
| اناټومي | ۳ | ۲ | ۵ |
| هستولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| فزيولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| طبي اخلاق | ۱ | | ۱ |
| ترمينالوژي | | ۳ | ۳ |
| فکري پوهنه | ۱ | | ۱ |
| اديان او مذاهب | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډيټونه:** | ۱۱ | ۹ | ۲۰ |

## دوهم ټولګی- پينځم سمستر 2th Class: Fifth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډيټونه |
|---|---|---|---|
| اناټومي | ۳ | ۲ | ۵ |
| فزيولوژي | ۳ | ۱ | ۴ |
| بيوشيمي | ۲ | ۲ | ۴ |
| مايکروبيولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| سياسي نظام | ۲ | | ۲ |
| اداري نظام | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډيټونه:** | ۱۴ | ۷ | ۲۱ |

## دوهم ټولګی- شپږم سمستر 2th Class: Sixth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډيټونه |
|---|---|---|---|
| پتالوژي | ۳ | ۲ | ۵ |
| فزيولوژي | ۳ | ۱ | ۴ |
| بيوشيمي | ۲ | ۲ | ۴ |
| مايکروبيولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| اقتصادي نظام | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډيټونه:** | ۱۲ | ۷ | ۱۹ |

### دریم ټولګی- اووم سمستر 3rd Class: Seventh Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډېټونه |
|---|---|---|---|
| پتالوژي | ۲ | ۱ | ۳ |
| فارمکولوژي | ۲ | ۱ | ۳ |
| پرازیتولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| داخله | ۲ | ۲ | ۴ |
| جراحي | ۲ | ۲ | ۴ |
| صحت عامه | ۱ | ۱ | ۲ |
| قرآن او معاصر علوم | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډېټونه:** | ۱۲ | ۸ | ۲۰ |

### دریم ټولګی- اتم سمستر 3rd Class: Eighth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډېټونه |
|---|---|---|---|
| پتالوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| فارمکولوژي | ۲ | ۲ | ۴ |
| داخله | ۲ | ۲ | ۴ |
| جراحي | ۲ | ۲ | ۴ |
| صحت عامه | ۱ | ۱ | ۲ |
| اسلامي تمدن | ۲ | | ۲ |
| **ټول کرېډېټونه:** | ۱۱ | ۹ | ۲۰ |

### څلورم ټولګی- نهم سمستر 4th Class: Ninth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډېټونه |
|---|---|---|---|
| انتاني او تي بي | ۲ | ۲ | ۴ |
| فارمکولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| داخله | ۲ | ۲ | ۴ |
| جراحي | ۲ | ۲ | ۴ |
| صحت عامه | ۱ | ۱ | ۲ |
| راډیولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| ولادي | ۱ | ۱ | ۲ |
| **ټول کرېډېټونه:** | ۱۰ | ۱۰ | ۲۰ |

### څلورم ټولګی- لسم سمستر 4th Class: Tenth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډېټونه |
|---|---|---|---|
| انستیزي | ۱ | ۱ | ۲ |
| یورولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| داخله | ۲ | ۲ | ۴ |
| جراحي | ۲ | ۲ | ۴ |
| راډیولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| ولادي | ۱ | ۱ | ۲ |
| جلدي | ۲ | ۱ | ۳ |
| صحت عامه | ۱ | ۱ | ۲ |
| **ټول کرېډېټونه:** | ۱۱ | ۱۰ | ۲۱ |

### پنځم ټولګی- یوولسم سمستر 5th Class: Eleventh Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډېټونه |
|---|---|---|---|
| داخله | ۱ | ۱ | ۲ |
| جراحي | ۲ | ۲ | ۴ |
| اطفال | ۱ | ۱ | ۲ |
| نسائي | ۱ | ۱ | ۲ |
| تروماتولوژي | ۱ | ۱ | ۲ |
| غوږ، پوزه، ستونی | ۲ | ۱ | ۳ |
| عصبي | ۱ | ۱ | ۲ |
| جراحي عصب | ۱ | ۱ | ۲ |
| صحت عامه | ۱ | ۱ | ۲ |
| **ټول کرېډېټونه:** | ۱۱ | ۱۰ | ۲۱ |

### پنځم ټولګی- دوولسم سمستر 5th Class: Twelfth Semester

| مضمون | نظري | عملي | کرېډېټونه |
|---|---|---|---|
| داخله | ۱ | ۱ | ۲ |
| جراحي اطفال | ۱ | ۱ | ۲ |
| اطفال | ۲ | ۲ | ۴ |
| نسائي | ۱ | ۱ | ۲ |
| اورتوپیدي | ۱ | ۱ | ۲ |
| سترګه | ۲ | ۱ | ۳ |
| عقلي | ۱ | ۱ | ۲ |
| عدلي طب | ۱ | ۱ | ۲ |
| صحت عامه | ۱ | ۱ | ۲ |
| علم سلوک | ۱ | | ۱ |
| **ټول کرېډېټونه:** | ۱۲ | ۱۰ | ۲۲ |

## ولي زموږ طب پوهنځی انتخاب کړئ؟ Why Prefer our Faculty of Medicine

تاسو به د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي تر لوستلو وروسته وکولای سئ چي په روغتون، کلينيک، او نورو روغتيايي مراکزو کي صحي خدمات وړاندي کړئ. زموږ طب پوهنځي په خپل درسي نصاب کي د ناروغيو د تشخيص، درملني او وقايې په تړاو ځانګړي او مهم مضامين ځای پر ځای کړي دي چي په لوستلو به يې تاسو وتوانېږئ چي انساني ناروغۍ تشخيص کړئ، درملنه يې وکړئ او هم يې وقايوي لاري چاري ولټوئ. همدارنګه زموږ طب پوهنځي درسي نصاب د اسلامي، ساينسي او عصري زده کړو او مهارتونو د ترلاسه کولو له پاره ځانګړي مضامين لري، د USMLE او TOEFL تقويتي کورسونه دائروي تر څو تاسو په اړينو مهارتونو سمبال کړي.

- زموږ طب پوهنځی مجرب ماسټر او دوکتور استادان لري.
- د ښار له معتبرو روغتونونو سره د عملي کارونو له پاره قراردادونه لري.
- د نظري او عملي زده کړو له پاره نوی تحصيلي نصاب لري.
- د کيفيت لوړاوي په برخه کي نيک شهرت لري.
- محصلانو ته زمينه برابروي چي له روغتيايي مراکزو څخه ليدنه وکړي او د عملي کار امکانات ورته برابروي.
- د عملي کارونو له پاره فزيک، کيميا، مايکروبيولوژي، بيوشيمي او اناټومي لابراتوارونه لري.
- د فارمکولوژي مضمون عملي زده کړي له پاره مجهز درملتون لري.
- په ټولګيو کي پروجکټورونه، پلازماوي، شنې او سپيني تختې، د يخنۍ او ګرمۍ ضد وسايل لري.
- د غونډو، ورکشاپونو، سيمينارونو او کنفرانسونو له پاره مجهز تالارونه لري.
- د ښځينه محصلانو له پاره جلا صنفونه، مجهز ټرانسپورټ، د تګ - راتګ جلا لاري او مسجد شريف لري.
- د محصلانو له پاره ستاينغونډي او فراغت غونډي دائروي.
- د ژبو په مرکز کي د انګليسي او عربي ژبو او کمپيوټر زده کړو خدمات وړاندي کوي.
- د امريکا له ECFMG او د بريتانيا له GMC سره غړيتوب لري.
- مجهز کتابتون، د ښځينه او نارينه محصلانو له پاره د مطالعې جلا ځايونه لري.
- مجهز کمپيوټر لب او چټک انټرنټ لري.
- د واليبال، فوټبال او کرکيټ لوبو مجهز او معياري ميدانونه لري.
- کفتريا، کاپي مرکز او مجهز کانتين لري.



# مرکزونه، خدمات او آسانتیاوي Centers, Services, & Facilites

## ۱ څېړنیز مرکز Research Center

ملالۍ څېړنیز مرکز په ۱۳۹۷ل. کال کي جوړ او په فعالیت یې پیل وکړ. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنیز مرکز د علمي کادرونو، محصلانو او نورو همکارانو په مرسته په ملي کچه روغتیایي او ټولنیزي ستونزي څېړي او حل لاري ورته پیدا کوي. د یاد مرکز له لوري تر اوسه په بېلابېلو علمي برخو کي څېړني او سروې ګاني د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو په مرسته تر سره سوي دي او د علمي مجلي له لاري نشر ته سپارل سوي دي.

## ۲ ژبو مرکز Languages Center

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې ژبو مرکز په ۱۳۹۹ ل. کال کي په فعالیت پیل وکړ. دا مرکز د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې محصلانو، استادانو او کارمندانو د ژبني مهارتونو لوړولو او تخنیکونو قوي کولو په موخه رامنځ ته سوی دئ. ژبو مرکز د بېلابېلو ژبو ور زده کولو په موخه د باکیفیته تدریسي چاپېریال رامنځ ته کولو له پاره هلي ځلي کوي.
یاد مرکز د انګلیسي او عربي ژبو تر څنګ د کمپیوټر زده کړو امکانات هم برابر کړي دي.

## ۳ مسلکي پرمختیایي مرکز Professional Development Center

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په ۱۳۹۷/۱۲/۲۷ ل. نېټه پرانیستل سوی دئ.
یاد مرکز د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو د ظرفیت لوړوني په موخه بېلابېل لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونه دائروي. دا مرکز د غونډو مناسب تالار لري چي د عملي کار(ګروپي کار) او نورو اړوند فعالیتونو له پاره امکانات لري. مسلکي پرمختیایي مرکز په تخصصي او مسلکي برخو کي د استادانو، اداري او تخنیکي کارکوونکو او محصلانو اړتیاوي معلوموي او له هغو سره سم د ظرفیت لوړوني په موخه د مسلکي اشخاصو په مټ بېلابېل لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونو په لاره اچوي.

## ۴ محصلانو انسجام او خدماتي مرکز Students Coordination & Services Center

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې محصلانو د خدماتو او انسجام مرکز د محصلانو چارو معاونیت په چوکاټ کي په ۱۳۹۹ ل. کال کي فعالیت پیل کړ. دا مرکز محصلانو ته د مسلکي او حرفه یي خدمتونو زمینه برابروي، د نظري زده کړو تر څنګ یې د Internship, career fair, job fair پروګرامونو له لاري خصوصي او دولتي ادارو ته د عملي کار له پاره معرفي کوي. یاد مرکز د مشورو ورکولو مختلف ټیمونه لري چي محصلانو ته مسلکي او تخصصي مشورې ورکوي او د ستونزو حل لاري یې ورته ښیي. د دې تر څنګ وخت ناوخت د محصلانو د سرګرمۍ او تفریح په موخه د بېلابېلو لوبو ټورنمنټونه په لاره اچوي.

## ۵ ملالۍ کتابتون Malalay Library



ملالۍ کتابتون د کانګرس پر سیسټم جوړ په ۴۳ برخو او څلورو ژبو کې تر ۱۳ زره ټوکه ډېر کتابونه لري. محصل کولای سي له هارډ کتاب څخه په کتابتون کي استفاده وکړي یا یې د یوې اونۍ له پاره په امانت یوسي. په آنلاین کتابتون کي زر ګونه سافټ کتابونه سته چي محصل کولای سي هر وخت او په هر ځای کي ورته لاسرسی ولري. کتابتون د ښځینه او نارینه محصلانو له پاره جلا ځایونه لري، د ګروپي مطالعې جلا اطاقونه، د څېړنو له پاره کمپیوټرونه او د چټک انټرنټ خدمات پکښي چمتو سوي دي.

## ۶ کمپیوټر لب Computer Lab



کمپیوټر لب محصلانو ته د کمپیوټر زده کړي او استفادې خدمات وړاندي کوي، د مؤسسې د الکترونیکي تجهیزاتو په څارلو او د مؤسسې په عصري ټکنالوژیکي وسائلو سمبالولو کي له آی ټي آمریت سره همکاري کوي او د محصلانو د تدریسي الکترونیکي تجهیزاتو څارنه کوي. کمپیوټر لب د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو د ظرفیت لوړوني په موخه مختلف پروګرامونه دائروي او په تخنیکي برخو کي یې مرسته کوي.

## ۷ عاجل اطاق او درملتون Emergency Room & Pharmacy



ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه کي عاجل اطاق چمتو سوی دئ تر څو په بېړنیو حالاتو کي محصلانو، استادانو او اداري کارمندانو ته لومړني صحي خدمات وړاندي کړای سي. یاد اطاق په معیاري ډول جوړ سوی دئ او د بېړنیو مرستو له پاره لازم تجهیزات او امکانات پکښي برابر سوي دي. په دې اطاق کي محصلانو ته درمل ور پېژندل کېږي او د اړوند مسایلو په تړاو مهم معلومات ورکول کېږي.



## ۸ سکېل لب Skill Lab

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي محصلانو ته د عملي کارونو له پاره په طبي وسايلو مجهز سکېل لب جوړ سوی دئ. په سکېل لب کي محصلان د استادانو په لارښوونه عملي کارونه سر ته رسوي. په سکېل لب کي د مضامينو مطابق مواد او موډلونه خريداري سوي دي چي د محصلانو په عملي روزنه کي ډېر ګټور ثابتېږي.

## ۷ لابراتوارونه Laborators


د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه د طب پوهنځي محصلانو ته د عملي کارونو له پاره پنځه لابراتوارونه جوړ کړي دي. هر لابراتوار د وخت له اړتياوو سره سم وسايل، امکانات او تجهيزات لري. محصلان په يادو ځايونو کي د مهالوېش مطابق عملي کارونه او تجربي سر ته رسوي. هر لابراتوار د ثبت کتاب لري چي پکښي ټولي تجربې ثبتېږي. د دې تر څنګ د محصلانو له خوا جوړ سوي موډلونه هم په لابراتوارونو کي موجود دي. د لابراتوارونو نومونه په دې ترتيب دي:

## مايکروبيولوژي لابراتوار




اناټومي لابراتوار


کیمیا لابراتوار


فزیک لابراتوار

## تفاهم لیکونه MoU

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځی د چارو د پرمختګ، د متقابلو ګډو همکاریو او محصلانو عملي کارونو په موخه له ځینو روغتونونو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي چې د ځانګړي مهالویش مطابق محصلان له شپږم سمستر وروسته ور معرفي کوي، د دې تر څنګ د دوولسم سمستر فارغان یادو روغتونونو ته معرفي کېږي تر څو ۴۸ اونۍ ستاژ دوره بشپړه کړي. د روغتونونو تفصیل په دې ترتیب دئ:

۱ ایوبي روغتون

۲ مُهمند روغتون

۳ سیدال روغتون

۴ سیال روغتون





# استادان، محصلان او فارغان Lectures, Students & Alumni



## استادان Lecturers

- د طب پوهنځي په دواړو ښاخانګو کي ۷ دايمي لېسانس، ماستر او دوکتور استادان
- د طب پوهنځي په دواړو ښاخانګو کي ۳۳ بالمقطع لېسانس، ماستر او دوکتور استادان

## محصلان Students

| پوهنځی | دوري | نارينه | ښځينه | جمله |
|---|---|---|---|---|
| طب | 22-11 | 647 | 211 | 858 |

## فارغان Alumni

| پوهنځی | دوري | نارينه | ښځينه | جمله |
|---|---|---|---|---|
| طب | 9-1 | 349 | 132 | 481 |

# د محصلانو نظریات

**ملالی** - د طب پوهنځي ۱۴۰۱ ل. کال عمومي اول نمره



ملالی لوړو زده کړو مؤسسه زموږ علمي کور دئ چې لایق او مجرب استادان پکښې معیاري درسي خدمات وړاندي کوي. دلته په ښه کیفیت امکانات برابر سوي دي او موږ هڅول کېږو چې خپلو هیلو ته ورسېږو.
زما له پاره د ویاړ ځای دئ چې دلته تحصیل کوم او د دې ځای له رهبري هیئت، استادانو او کارمندانو څخه مننه کوم چې د لوړو زده کړو له پاره یې غوره چاپېریال او امکانات برابر کړي دي.

**نذیر احمد شکوري** - د طب پوهنځي د صنف اول نمره



ما چې د تحصیل په برخه کې کوم ارمانونه او خوبونه لرل هغه ټول په ملالی لوړو زده کړو مؤسسه کې د پوره کېدو په حال کې دي. زه ډاډه یم چې د دې تحصیلي مؤسسې د خدماتو او امکاناتو په مرسته به خپلو سالمو اهدافو ته رسېږم او یوه ورځ به خپلو هیوادوالو ته بهترین روغتیایي خدمات وړاندي کړای سم.

# د فارغانو نظریات

**ډاکټر سید احمد دوست د طب پوهنځي استاد او ټریني متخصص**



زه له ملالی لوړو زده کړو مؤسسې څخه فارغ یم او د همدې علمي مرکز له برکته اوس په میرویس حوزوي روغتون کې د اطفالو واټ ټریني متخصص یم. ملالی لوړو زده کړو مؤسسه د سیمې په کچه معیاري علمي بنسټ دئ چې په ښه کیفیت علمي خدمات وړاندي کوي.

**ډاکټر حکمت الله سلطاني د CHC کلینیک آمر او افغاني سره میاشت کې معالج ډاکټر**



ویاړم چې د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې فارغ یم، زه له همدې مؤسسې تر فراغت وروسته وتوانېدم د طبابت په مسلک کې ټولني ته خدمات وړاندي کړم او د کندهار افغاني سرې میاشتې ټولني سره د CHC کلینیک آمر او معالج ډاکټر په توګه دنده پیل کړ.

ملالی لوړو زده کړو مؤسسه

Malalay Institute of Higher Education

# CATALOG

*of*

*Medicine Faculty*




2023-24